هفته نامه
جهادهنداره
مراة الجهاد

PROPERTY OF ACKU

دوهم کال (۱۹) پرله پسي (۷۱مه) گنه چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش ددلوي ۲مه د۱٤۱۲ هـ ق رجب المرجب ۱۸مه د۱۹۹۲ میلادي کال دجنوري ۲۲مه

فتح ٦ پوسته رژیم در ولایت جوزجان

جوزجان ، میدیا :
به اساس راپور یك منبع جهادی ولایت جوزجان مجاهدین دریك عملیات گسترده شب ۲۲/۲۱جدی ٦ پوسته رژیم ملحد رافتح کردند .
طبق گزارش ۱۲ نفرازافراد دشمن که گفته میشود همه ملیشه اند درین عملیات مقتول و ۸ نفر دیگر مجروح گردیده اند .
همچنان یك عراده موتر ، یك میل زیکویك ، دومیل پیکاو ۳٦ میل سلاح خفیف بامقادیر زیاد مهمات به غنیمت سپاه اسلام درامده است .
در راپور امده است درجریان عملیات عده از ملیشه ها با ٤۰ خانواده از منازل شان گریخته به قلمرو مجاهدین پناه اورده اند .

دکابل په شکردره کی یوه قرارگاه او پنځه پوستی مجاهدینو ته تسلیم شوی

کابل ، میډیا :
په پیښور کی یو جهادی خبر ځای میډیا ته رپوټ ورکړی چی دکابل ښارپه شمالی اوه کیلومتری دشکر دری په ولسوالی کی دکابل رژیم دقواو دیوی قرارگاه او پنځه پوستو ټخه ۳۰ تنه ملیشه د ۱۵ عرادو ټانکونو او زیاد شمیر وسلو سره مجاهدینو ته دجدی په ۲٤ مه نیته په یوه حمله کی بی جگړی تسلیم شوی دی دخبر ځای په قول درژیم مخالفو عسکرو او ملیشه و مجاهدینو ته ددی کامیابی کار وایی په دوران کی دپوستو دری میله هاوان توپونه ، څلور میله پیکا ، ٦۰ میله کلاشینکوفونه پنځه میله راکټ دیو زیات شمیر نظامی مهماتو سره حواله کړیدی.

الحاج مولوي جلال الدين حقاني دميديا له خبريال سره په مرکه کي :

ظاهرشاه نه په څلويښت کلنه پادشاهي کي اونه دجهاد په ۱۳ کلنه موده کي دولس کوم خدمت کړي نو هغه بيا په کومو سترگو افغانستان ته راځي!

په ۲مخ کي

دمليشي يو تن قوماندان له خپلو زياتو ملگرو سره مجاهدينو ته سلامي شو

دېکستان ورځپاڼي په وروستي گڼه کي له کويټي نه ديوه رپوټ په حواله ليکلي چي دهرات په «اوبه» ولسوالي کي درژيم دمليشي يو تن قوماندان له خپلو سلگونو تنو سره مجاهدينو ته تسليم شوي همدارنگه هغوي خپله ټوله وسله مجاهدينو ته سپارلي چي په هغي کي(١٤)سوه ميله کلاشينکوفونه او توپونه يو عراده ټانگ او اته عرادي موټر شامل دي

اسلامي عمران او دهغي اهميت

داسلامي ثقافت ددعوت مرکز له خوا غونډه

په ۷ مخ کي

دمحصلينو ديوي پراخه مظاهري په ترڅ کي :

دظاهرشاه مجسمي ته اور ورته شو

په ۸ مخ کي

په روسيه کي لوږه قحطي او قيمتي

له حکومت نه داستعفا غوښتنه

په ۸مخ کي

دبرتانيي دبهرنيو چارو دوزير غوښتنه :

په نيول شوي کشمير کي بايد دانساني حقوقو دپايمال کيدو تحقيقات وشي

په ۸ مخ کي

دکابل نامتو قوماندان انور خان ديوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کي :

زه په پوره ډاډ وايم چي دريمه سرتاسري شورا به په نږدي راتلونکي کي جوړيږي

دکابل رژيم په تور بازار کي ډالر اخلي

پاکستاني اجناس د منځني اسيا په بازارونو کي

په ۷ مخ کي

اسرائيلی حکومت له سخت کړکيچ سره مخامخ دی

له حکومت سره دچپي گوندونو مخالفت

په ۸ مخ کي

استراليا د سلونيا او کروشيا جمهوريتونه په رسميت وپيژندل

که څه هم ديوگوسلاويا جمهور رئيس وايي چي دده هيواد لاتراوسه پوري يو بين المللي حيثيت لري خوپلي خواته اروپايي ټولني دسلوينيا او کروشيا په رسميت پيژندلو لاس پوري کړي چي په همدې رابطه استراليا هم دغه دواړه هيوادونه سلوينيا او کروشيا په رسميت وپيژندل هلته ديوگوسلاويا صدراعظم په اروپايي ټولنه داتور لگولي دي چي ددوي ددغو اقداماتو څخه به اروپا ديوه ستر خطر سره مخامخ شي

دخوست دفتحي په جريان نيول شوي :

د(۱۷۰۰) تنو په شاوخوا کي دکابل رژيم اسيران خوشي شول

په۸ مخ کي

سرمقاله

ظاهرشاه دسولی سالار که دروانی فاجعی مسول ؟!

په دی وروستیو وختونو کی یو ځل بیا دظاهرشاه نوم دخبری وسایلو له خولی دیر اوریدل کیږی اودمشخصو استکباری حلقو هڅه ده چی ظاهرشاه زموږ پرملت وتپی او دافغانستان دبرمیال جهاد د۱۷ لکه شهیدانو عظیمه قربانی دیوه فاسق شرابی اوله ملت نه رټل شوی انسان په پښو کی ور وغورځوی .
که څه هم زموږ باور دی چی هم ظاهرشاه او هم مو ملت ته داپه ډاگه ده چی ددواړو لوریو تر منځ واټن او اختلاف ډیر زیات شوی دی نن زموږ ملت هغه ملت نه دی چی ظاهرشاه یی حکمران و، دامنو چی ملت مو دیارلس کاله داور او وینو په سمندر کی سفر کړی سولی ، ارامی او سوکالی ته ضرورت لری خو داهیڅکله هم نه شو منلی چی سوله به دظاهرشاه دبیرته واکمنی په قیمت راخلی ، هغه څوك چی ددغی ستری قربانی او دملت دننی بدی ورځی اصلی عامل ؤ، هیواد ته دالحاد بی دینی

په۷ مخ

٥١ فيصده امريکايان دبش مخالف دی

نیویارك ، دجدی ۲۸مه :
دیوی څیړنی له مخی دجمهور رئیس بش ددوهم ځل کاندیداتوری لپاره دنیمو نه دزیات له ملاتړڅخه بی برخی دی دسی این ای اویو ایس ای لخوا دیوه ولسی سیمنار دتحقیق له مخی ٤۹ فیصده امریکایان دبش طرفدران او ٥۱ فیصده یی مخالفان دی حال داچی دخلیج دجگړی څخه دمخه دبش طرفدارانو شمیره ۹۰ فیصده وه چی ددی لپاره یو ویاړ ؤ .
ولی بش په دی عقیده دی چی اقتصاد دښه کیدو څخه وروسته به دده په مقبولیت کی یو وار بیا زیاتوالی راشی خو دده سره صرف په دی خبره ۲٤ فیصده خلك موافق دی .

دامريکا دجمهور رئيس بش غوښتنه:

دعراق ولس دی دصدام حکومت نسکور کړی

په۸ مخ کي

الجزاير - ديموکراسي که ديکتاتوري ؟

په ۳ مخ

افغانانو «سومنات» مات کړ، دانگريزانو امپراطوري يې ماته کړه اوداوس يې دروسي امپراطورۍ دماتي اورنگيدو وياړ هم وگاټه .

الحاج حقاني

جهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتاسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

رهایی لشکر اسرای جنگی رژیم کابل از سوی فرماندهی جبهات الحاج حقانی

سمیع الله «تازه»

صد ها تن از اسیران جنگی رژیم کابل از سوی فرماندهی جبهات الحاج مولوی جلال الدین حقانی رها گردیدند تعداد بیشتر این محبوسین درجریان فتح خوست در ماه حمل سالجاری بدست مجاهدین اسیر شده بودند.

گرچه تعداد جمعی افرادیکه رها گردیده اند بصورت دقیق هویدا نیست ولی تخمینا تعداد انها به هفده صد نفر خواهد رسید طوریکه معلوم گردیده رقم بیشتر این تعداد را افراد نظامی وملیشاهای رژیم تشکیل می دهند .

از افراد مذکور که شامل افراد عادی تا حزبی اند در مدت نزدیك به یازده ماه در مراکز نظامی الحاج جلال الدین حقانی نه بحیث اسرای جنگی بلکه بحیث مهمانان نگهداری بعمل امده وبا انها کاملا رفتار اسلامی وافغانی شده است در طول همین مدت تعداد زیاد خویشاوندان اسرای مذکور چه از دیار هجرت وچه از مناطق تحت اشغال رژیم کابل به مراکز نگهداری انها شتافته از نزدیك با ایشان دید وبازدید واحوال جویی نموده اند .

گرچه قبلا افوهاتی مبنی بر بد رفتاری فرماندهان الحاج حقانی با محبوسین پخش شده بود اما انعده از هموطنان ماکه اقربای خویشرا در دوره تحت اسارت نیروهای جهادی حقانی ملاقات نمودند بحق همه ان بافته های دروغین رادرعمل ندیدند ونیافتند در هنگام بعد از فتح خوست الحاج حقانی طی صحبت باخبرنگاران در رابطه به معامله بااسرا گفته بود گرچه لازم است افراد وملیشاهای رژیم کابل رابابد منحیث جنایتکار جنگ محاکمه نمود ولی ما انهمه جنایاتیکه انها در برابر برادران وخواهران وبالاخره مردم مسلمان خویش انجام داده اند صرف نظر نموده انها را بمنزله مهانان در امان خواهیم داشت .

تعدادی از جمله سازمانهای بین المللی نیز در اغاز باین حرف مسلم بنظر شك می نگریستند ولی در عمل ثابت گردید که با تمام اسرای جنگی بدون هیچگونه تبعیض وتعصب برخورد انسانی صورت گرفته است چنانچه چند روز قبل فلیکس ارماکورا گذارشگر حقوق بشر ملل متحد نیز ازوضع معیشتی اسرای مذکور دیدار بعمل اورده از وضع کاملا انسانی که با انها بعمل امده ابراز سپاسگذاری وشکران نموده است سازمان های بشری بین المللی با توجه به برخورد کاملا انسانی تعداد بیشتر مجاهدین بااسرای رژیم کابل ان رژیم را ناگزیر ساختند تا در مجالس خویش را بروی نماینده گان حقوق بشر بکشاید چنانچه درین اواخر بیك نماینده کمیته صلیب سرخ جهانی از سوی رژیم اجازه داده شده است تا بدون حضور نماینده رژیم با محبوسین زندان پلچرخی ملاقات نماید.

نماینده توانسته است تا حال از بلاك اول ودوم زندان مخوف پلچرخی دیدن نماید طبق تخمین سازمانهای حقوق بشر رژیم فعلا لا اقل دو هزار تن رابنام محبوسین سیاسی در محابس خود دارد که تقریبا همه انها مجاهدین اند که برای ازادی کشور و اعلای کلمة الله علیه الحاد می جنگند سازمانهای حقوق بشر از جمله کمیته صلیب سرخ جهانی ازین حقیقت کاملا اگهی دارند که هزاران هزار افغان مسلمان بخاطر خداپرستی ووطندوستی از طرف دژخمیان کمونست رژیم مزدور خلقی ها وپرچمی ها درین زندان انسان سوز وحشیانه شکنجه شده و در منشانه به پولیگون مرگ فرستاده شده اند ، مردم ما هزاران افسانه وحکایات جانگداز زجر ومرگ هموطنان بیگناه خود را ازین زندان بلا با خود دارند وهنوز هزاران پدر و مادر ، همسر فرزند و دختر با امید واهی به جستجوی عزیز ان گمشده خویش اند .

با رهایی لشکری از اسرای رژیم بدون هیچگونه قید وشرطی مجاهدین یکبار دیگر نشان میدهند که انها صرف کمونیزم ورژیم کمونستی رادشمن خود دانسته اگاهانه در برابر ان عمل می کنند ضرورت بگفتن نیست که در زمره رها شدگان اشخاص قشرهای مختلف ودارای افکار مختلف میباشند ومجاهدین امروز این اعتماد بخود را دارند که افراد دشمن وحتی دشمن خود را بدون هیچگونه مجبوریت رها نمایند .

یقین است که باین عمل بشر دوستانه مجاهدین فشار اخلاقی بر رژیم کابل افزون تر گشته و موجب رسوایی بیشر ان رژیم دست نشانده مسکو و بیگانه از مردم افغان خواهد گردید .

ظاهرشاه نه په خلویست کلنه پادشاهي کي اونه دجهاد په ۱۳ کلنه موده کي دولس کوم خدمت کري نو هغه بیا په کومو سترګو

افغانستان ته راحي!

اتل قوماندان الحاج مولوی جلال الدین حقانی دروان کال دجدی په ۲۳ مه دمیدیا دخبری اژانس له خبریال سره دافغانستان دقضیی دحل په اړه دروانو هڅو او ځینی نورو موضوعاتو په هکله یوه مختصره مرکه کړی ده چی دادی بشپړ متن یی درنو لوستونکو ته وړاندی کوو .

الحاج مولانا جلال الدین حقانی دافغانستان دمسلی دهواری په هکله دجرمنی دبن په ښار او همدارنګه په سعودی عربستان کی دځلور اړخیزه کنفرانس جوړیدل رد کړل او په ډاګه یی کړه چی ددی ډول کنفرانسونو له لاری په افغانستان کی سوله او ارامی نشی راتلای .

الحاج حقانی دمجاهدینو له مشرانو څخه په کلکه غوښتنه وکړه چی په افغانستان کی داوسنی وضعی دژر تر ژره ختمولو لپاره په خپلو منځونو کی اتحاد او اتفاق وکړی اودیوی واحدی طرحی وړاندی کولو هڅه دی وکړی چی افغانانو ته دقبول وړدی او په افغانستان کی سوله اوامنیت تضمین کړای شی .

پیاوړی قوماندان الحاج حقانی زیاته کړه : که زموږ جهادی مشران دوخت دضرورت پر بنا په خپلو منځونو اتحاد او اتفاق ونکړی اوعلماو او قوماندانانو هم ددوی دبی اتفاقی مخه ونه نیوله نو ددی امکان شته چی دیو ملیون شهیدانو دوینو په قیمت ګټل شوی دازادی بیړی به داسلام ددښمنانو ددسیسو او توطئیو په وجه خدای مه کړه ډوبه شی .

حقانی صاحب دعلماوو ، قوماندانانو او مهاجرینو څخه وغوښتل ترڅو په خپلو منځونو کی سره راټول شی اودچارو واکی په خپل لاس کی ونیسی ترڅو داسلام اوافغانستان دښمنانو ته وښیی چی مجاهدین او مهاجرین سره متحد دی او په خپله خپل سرنوشت ټاکلی شی .

> الحاج حقاني دیوي پوښتني په ځواب کي وویل : که غربیان او استعماري ځواکونه وغواړي چي ظاهرشاه دافغانستان پرخلکو وروتپي نوپه دي دي پوه شي چي هغه هم دببرك او نجیب په شان ګوډاګي دي چي دروسانو لخوا په قدرت ورسیدل خو مجاهدینو یې مات نکړاي شول

الحاج حقانی دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل : که غربیان اواستعماری ځواکونه وغواړی چی ظاهر شاه دافغانستان په خلکو وروتپی نو پدی دی پوی شی چی هغه هم دببرك او نجیب په شان ګوډاګی دی چی دروسانو له خوا په قدرت ورسیدل خو مجاهدینو یی مات نکړای شول .

حقانی صاحب همدارنګه زیاته کړه :

ظاهر شاه په ٤٠ کاله حکومت، کی دافغانستان خلکو ته هیڅ خدمت ندی کړی ، اونه یی اوس دجهاد په ۱۳ کلنه موده کی دکوم یتیم ، کونډی ، او مهاجر دحال پوښتنه کړی نو پداسی حال کی به هغه بیا په کومو سترګو افغانستان ته راځی .

الحاج حقانی دځینی هیوادونو له خوا دظاهر شاه دبیرته راوستلو هلی ځلی وغندلی او ویی وویل : دغو هیوادونو ته پکار ده چی پدی وپوهیږی چی باید دیوه سوری څخه یی دوه ځلی مارونه چیچی .

په ۷ مخ کي

زه په پوره ډاډ وایم چي دریمه سرتاسري شورابه په نږدي راتلونکي کي جوړیږي

دجهادی قوماندانانو دسرتاسری شورا په سیاسی دفتر کی دجدی په ۲۸ مه نیټه یوه مطبوعاتی کنفرانس جوړ شوی و په دغه کنفرانس کی قوماندان انور خان وویل دخلکو په منځ کی دقوماندانانو دشورا په هکله ځینی خبری کیږی اودشورا ددریمی سرتاسری غونډی ددایریدو لپاره ځینی هیڅونه تللی دی غواړم په دی برخه کی تاسی ته معلومات درکړم قوماندان انور خان زیاته کړه په دی وروستیو وختونو کی چی دافغانستان دمسلی په هکله سیاسی مسایل زیات شوی دی شورا هم ځان مجبور وګاڼه چی په سیاسی مسایلو کی خپل نظر څرګند کړی خو په لومړیو دوو شوراګانو او دشاه سلیم په شورا کی موږ دسیاسی او مالی دفترونو په جوړولو دعملیاتو په هم اهنګی په ازادو سیموکی دامنیت په راوستلو موافقی ته رسیدلی وو او ددی کارونود تر سره کولو لپاره مویو کمسیون جوړ کړی وخو کله چی دافغانستان دمسلی سیاسی اړخ ګرندی شونو موږ دکمسیون غړیو ځان ته داحق ورنکړ چی په سیاسی مسایلو کی خپل تصمیم ونیسو ځکه دوهمی شورا موږ ته دااختیار او صلاحیت نه و راکړی په همدی اساس دشورا عالی کمسیون غونډه وکړه ترڅو ددوهمی شورا کمسیون ته صلاحیت ورکړی اویا ددریمی شوراغونډی ته بلنه ورکړی او داداسی وخت و چی پر ګردیز عملیات پیل شوی وو نو موږ دحقانی صاحب په ګډون چی دشورا سرپرست دی په ژوره کی یوه غونډه وکړه په دی غونډه کی دافغانستان اکثره لوی قوماندانان یا دهغوی نمایندګانو ګډون درلوده اوپدی کی فیصله شوه چی دافغانستان راتلونکی مسایل ډیر مهم اودافغانستان دسرنوشت په ټاکلو پوری اړه لری له همدی امله باید یوه میاشت وروسته شورا دریمه سرتاسری غونډه وشی هیڅونه وټاکل شول اودهیواد مختلفوولایاتوته دقوماندانانو ددعوت اوهغوی سره دمفاهمی له پاره ولیږل شول خو دلاری دمشکلاتو له امله قوماندانان لاڅه چی زموږ ځینی لیږل شوی هیڅونه هم راونه رسیدل اوس ټول قوماندانان رارسیدلی یوازی دشورای نظار قوماندان دداخل څخه دلاری دمشکلاتو په سبب نه دی راغلی خو موږ دهغوی دپخوانیو استازیو سره چی مشری یی قانونی صاحب کوی په خبرو اترو لګیا یو ترڅو یوی نتجی ته ورسیږو قوماندان انور خان همدارنګه زیاته کړه :

زه په پوره ډاډ سره وایم چی انشاالله دریمه شورا به په نږدی راتلونکی ورځو کی جوړه شی وروسته بیا دخبریالانو له خوا یو لړ پوښتنی مطرح شوی چی دغو پوښتنو ته دځوابونو ویلو په جریان کی قوماندان انور خان دامریکا غږ راډیو دپښتو څانګی دخبریال دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل :

موږ کوښښ کوو چی دافغانستان دمجاهدینو په تیره بیا دقوماندانانو په منځ

په ۷ مخ کي

الجزاير - ديموکراسي که ديکتاتوري؟!

دسيد شهريار ژباړه

په الجزاير کی دانتخاباتو ددوهمی مرحلی دپوره کولو څخه مخکی دلادينه قوتونو په اشاره پوځ داسلامی حکومت مخه ونيوله اوداسلامی ژغورنی جبهی گوند دبی ساری بريالیتوب وروسته چی دغربی مطبوعاتو په قول دبنيادگرانو بريالیتوب و دالجزاير کمونستانو او لادينه قوتونو دپوځ سره لاس يو کړ دمسلمانانو په مقابل کی يی يو سنگر ونيو او دا اوازی يی گړی کړی چی دبنيادگرانو تر کاميابی وروسته په الجزاير کی دترقی خوښوونکو اوغربی نظرياتو لرونکو خلکو استوگنه سخته خبره ده په الجزاير کی داسلامی ژغورنی جبهی دکاميابی عوامل په اصل کی دنااهله اوکمونستی واکدارانو دکمونستی نظام غلطه پاليسی ده چی دالجزاير خلك يی دبی شميره مصيتونو او مشکلاتو سره مخامخ کړی دی پرته له دی په دغه دوره کی دمذهبی شخصيتونو حوصلی ماتی کړای شوی دی اوپه مسلسله توگه داسلامی قوانينو څخه سرغړونی شوی دی .

خو کله چی په انتخاباتو کی داسلامی ژغورنی جبهی ۱۸۹ چوکی وگټلی او واکمن گوند صرف ۱٦ چوکی ترلاسه کړای شوی نو دانتخاباتو ددوهمی مرحلی «شپاړسمی جنوری څخه دمخه جمهور رئيس شاذلی بن جديد له دندی څخه استعفی ورکړه خو ترڅنگه يی داسی اشاری هم وکړی چی په داگه پوځ ته په واك دمنگولو ښخولو دعوت و نو همغه و چی پوځ دصدراعظم سره لاس يو کړ په اقتداری قبضه وکړه او وروسته يی يوه تش په نامه دامنيت شورا او پخوانی فراری جمهور رئيس يی رامخی ته کړ ترڅو دانتخاباتو عمل وځنډيږی.

په ۱۹٦۲ کی دازادی تراخيستو وروسته تر اوسه پوری په الجزاير کی لادينه قوتونه کمونستان داقتدار په گدی ناست دی خو ولی اوس چی واك داسلامی قوتونو لاس ته ورتلو نو پوځ يی مخه ونيوله .

په ٢٦ دسمبر کوم چي انتخاباتو ورح وه په الجزاير کي يوي فرانسيسي ژبي ورحپاني غت غت وليکل چي نن دجمهوريت ورح ده خو په سبا ته همدي ورحپاني وليکل چي جمهوريت ناکام شو

دالجزاير پيژندنه الجزاير دشمالی افريقی يو مهم هيواد دی چی پراخوالی يی ۲۳۸۱۷٤۱ مربع کيلومتره نفوس يی شل ميلونه او ٤۱ لکه دی چی پکی دووټ ورکولو حق صرف لس ميلونه او ۱٤۷۷۱ تنو ته حاصل دی ۷۵ فيصده برخه يی د ۳۰ کالو څخه دکم عمر په خلکو پوری مربوط ده ملی ژبه يی عربی ده ولی فرانسی هم پکی ښه په زور کی روانه ده دريمه ژبه پکی بربری ده چی په جنوبی الجزاير کی زياته ويل کيږی ۹۰ فيصده خلك يی مسلمانان دی ديوه تن کټه په کال کی په اوسط ډول ۱۹۰۰ ډالره ده په کارگرو کی يی ۵۰ فيصده دولتی مامورين دی ۲۳ فيصده بی روزگار او باقی پاتی برخه يی شخصی کارکوونکی دی ، سوادی نيم په نيمه دی ۵۰ فيصده دسواد خاوندان او ۵۰ فيصده بی سواده دی .

دالجزاير ملی بودجه په کال کی ۵۱۰۰ ميليونه او ۹۰ لکه دالره ده ددغی بودجی ٤۲ فيصده دصنعت څخه ۳٦ فيصده يی دتيلو او گاز څخه او باقی پاتی برخه يی دزراعت او سياحت څخه لاس ته راوړی بيرونی قرضونه يی ۲۰۰۰ ميليونه او ٦۰ لکه ډالره دی ټول واردات يی دکال ٤٦۰۰ ميليونه او ۷۰ لکه دی چی پکی ٤۰ فيصده صنعتی خام مواد او (۲۰) فيصده خوراکی تيل شامل دی ددی په مقابل کی يی کلنی صادرات ۷۰۰ ميليونه او ٦۰ لکه دی چی پکی ۹۷ فيصده هايدروکاربن دی .

دالجزاير تاريخی اهميت : الجزاير په ۱۸۳۰ کال کی دفرانسی مستعمره وگرځيده خو د الجزاير خلکو دفرانسی نه دخلاصون لپاره ډيری قربانی ورکړی او په لکونو خلکو دشهادت جامونه وڅښل دالجزايريانو ددغو هلو ځلو په مقابل کی فرانسی الجزاير خپل يو ولايت وگرځاوه او فرانسويان يی په الجزاير کی ځای پر ځای کړل ترڅو دالجزاير دخلکو کلتور ثقافت اوفرهنگ په فرانسوی کلتور ثقافت اوفرهنگ بدل کړی خو دالجزاير سوچه مسلمانانو دفرانسی دغه کوښښونه ديوی مخی دناکامی سره مخامخ کړل .

په ۱۹۵٤ کال دنومبر په مياشت کی يو ځل بيا دازادی اخيستو تحريك پيل شو او تقريبا لس لکه مسلمانان په شهادت ورسيدل خو داتو کالو مبارزی او جد وجهد څخه وروسته دالجزاير مسلمانانو په ۱۹٦۲ کی خپله ازادی ترلاسه کړه که څه هم دغه دازادی تحريك داسلام په نامه پيل شوی و خو دازادی وروسته په الجزاير کی جوړ يو شويو حکومتونو دټولو څخه زيات داسلام سره خيانت وکړ او وخت په وخت يی اسلامی نظريه وځپله او وتکوله .

دفرحت عباس نه وروسته بن بلا واکمن شو له ده نه وروسته بومدين دپوځی انقلاب په ذريعه واکمن وگرځيد اوله هغه وروسته شاذلی بن جديد داقتدار په گدی کيناست دغو ټولو پخپلو وختو کی دبی باکه ازادی او کمونستی فحشه لار ونيوله چی په نتيجه کی دملت دتباهی بل څه ونه گرځيده که څه هم په دغه سخت وخت کی دالجزاير خلکو چی دهر لوری ورته د لادينه قوتونو خطرونه متوجه او تقريبا له يوه سخت ازمينبت سره مخامخ و مگر بيا يی هم داسلام سره دخپلی پخی مينی ثبوت ۲۹ کاله وروسته په ۲٦ دسمبر ۱۹۹۱ نيټه په پوره صبر اواستقامت دانتخاباتو په لومړنی مرحله کی ورکړ چی دلادينه او اشتراکی قوتونو بيړی يی ډوبه کړه اوخپلی رايی يی دمسلمانانو گوند داسلامی ژغورنی جبهی ته په پوره ډول ورکړی .

په دغو انتخاباتو کی چی کومو گوندونو برخه اخيستی وه په مجموعی ډول ٤۹ گوندونه و خو اصل مقابله صرف دپنځوو گوندونو تر منځ وه .

۱- داسلامی ژغورنی جبهه : دغه گوند په ۱۹۸۸ کال داکتوبر په مياشت کی تاسيس شو ددغه گوند مشر دفلسفی پروفيسور عباس مدنی دی چی په اسلامی علومو يی هم ښه عبور حاصل دی او دډيرو دينی کتابونو مصنف هم دی مرستيال يی علی بلحاج دی چی هغه هم يو ځوان دينی عالم دی او دهغی اسلامی تحريك غړی دی چی بنسټ يی په ۱۹٤۰ کی دعبدالحميد بن باديس لخوا کيښودل شوی و دغه دواړه دجون د ۳۰ ، ۱۹۹۱ نيټی څخه راپديخوا بنديان دی اوس ددغه گوند

دالجزاير مسلمانان به هيڅکله هم دلادينه قوتونو دغه تاريخي اوله شرمه ډك خيانت له ياده ونه باسي او يوه نه يوه ورځ به دغه داستعمار بچيان دخپلو ناوړه عملونو په جزا ورسوي

په ٦ مخ کي

دنبوی (ص) لمر زرینی وړانگی !

په تير پسی — ژباړه اولنديز «رحيمزی»

دقريشو دټول فشار او تهديد سره سره دبنی مخزوم دقبيلی غړی هم داسلام له دعوت څخه متأثر شول ددی قبيلی څو تنه اصحاب دالسابقون الاولون له ډلی څخه دی ،دحبشی لوری ته دمسلمانانو دلومړنی هجرت په ډله کی ۸ تنه دبنو مخزوم له قبيلی څخه هم وو داسلامی دعوت لومړنی مرکز دحضرت ارقم بن ارقم (رض) کور وو ، چی نوموړی جليل القدره صحابی هم په مخزومی کورنی پوری اړه درلوده اودغه ددعوت مرکز په تاريخ کی ددارارقم په نامه يادیږی .

دحضرت رسول کريم (ص) نامتو صحابی ابوسلمه (رض) هم مخزومی وو ، دمسلمانانو دوه بيبيانی ام المومنين ام سلمه (رض) اوام المومنين ميمونه (رض) دهمدی ټبر لوڼی وی،په خپله دخالد (رض) کورنی هم داسلامی دعوت دپرمختگ څخه محفوظه پاتی نشوه دخالد (رض) ورور هم دبدر له غزا څخه وروسته په اسلام مشرف شو ، خو ددی سره سره خالد (رض) دپخوا په شان داسلام سرسخته دښمن وو ،او ددی پرمخ تلونکی يون (داسلام دين) دمخنيوی لپاره يی يوه دقيقه هم ضايع نکړه .

دحديبی دسولی معاهده داسلامی تاريخ له مهمو پيښو څخه ده تردی معاهدی مخکی ۲۰ کاله دمسلمانانواو کفارو تر منځ لوی کړکيچ دوام درلود دلومړيو دولسو کلونو په ترڅ کی چی داسلامی دعوت مرکز دمکی مکرمی ښار وو ، قريشو دوهلو ، ټکولو ، قيد او بند ،تحريص اولمځولو اوبيلابيلو ممکنه لارو څخه ددی هڅه وکړه چی مسلمانان له سمی او مستقيمی لاری څخه منحرف کړی ترهغی وروسته کله چی ددعوت مرکز له مکی مکرمی څخه مدينی منوری ته لاړ نو دغه عصبی جگړه دتوری او نيزی په جگړه بدله شوه ، تراوو کالو پوری توری سره جنگيدلی او وينی توئيدلی پداسی کړکيچنه فضا کی به دقريشو احساسات تل ترخه او تاو جن ووأو هر ځل ناکامی به ددوی دقهر او غضب اور نور هم تازه کاوه ، دحديبی دسولی څخه دغه وضعه لږ څه بدله شوه تاوجن او کړکيچن احساسات مخ په سړيدو شول زړه او دماغ سکون او ارامتيا تر لاسه کړه دعربو سردارانو او قبايلو ته له نژدی څخه او ددښمن دتبليغاتو څخه لری دمسلمانانو دليدلو اوپيژندلو موقع په لاس ورغله اوپدی توگه هغه کسانو چی په لږ څه پوهيدل دلومړی ځل لپاره ددی اوريده کړکيچ اودهغی دکچی په هکله په سوچونو پيل وکړ ، پدی ډله کی يو هم خالد بن وليد وو هغه په خپله وايی : «کله چی الله تعالی وغوښتل ماپه خپل فضل ونازوی نوزما په زړه کی يی داسلام فکر راواچاوه اوماته يی دسوچ کولو او پوهيدلو استعداد راکړ ، مابه اکثراً فکر کاوه دمحمد صلی عليه وسلم پرخلاف پرهره جگړه او هر محاذ کی وجنگيدم ولی تل ناکامه او نامراده بيرته راوگرځيدم داسلام شوکت اوعظمت نور هم مخ په زياتيدو دی،پدی توگه ورو ورو دغه فکر زما په زړه کی ځای ونيوه چی زما موقف غلط او باطل دی ، او محمد (ص) برحقـــه دی او پيغمبر(ص)به تل غالب اوبريالی وی ».

دغه فکر اوسوچ دخالد بن وليد په زړه کی يو کشمکش راپيدا کړ يوه طرف ته دهغه ماضی اودهغه اوږده مبارزه اوددی اوږدی مبارزی په ترڅ کی دتره ، دتره دزوی او نورو دوستانو اوخپلوانو وژل کيدل اودپلرونو او نيکونو روايات اومذهب وو،خو بل لوری ته ددغه يقين اثر وو چی حق هماغه دی کوم چی محمد (ص) راوړی . دخپلی ماضی قومی او مذهبی رواياتو څخه غوڅيدل څه اسانه کار نه وی ، که هر خومره هغه خرافاتی ، مسخره او غلط هم وی اوله هغی سره که وينه هم گډه شی نو دغه مرحله نوره هم گرانيږی .

دسولی په دوهم کال حضرت محمد (ص) دعمری دادا کولو لپاره مکی مکرمی ته تشريف يووړ ، تردی وخته لا دخالد په زړه او دماغ کی دغه کړکيچ پر ځای وو او هغه کومی فيصلی ته نه وو رسيدلی ځکه نو پدی وخت کی دمکی څخه ووت او تر هغه پوری بيرته راونه گرځيد چی حضور اکرم (ص) په مکه کی وو.

په ٥ مخ کي

جهادي ادب

سري وی تکی سپيني وی چی تويی شوی
مرگ زموږه دمړيني وی چی تويی شوی
ولاړی څمکی وخوړی او ورکی شوی
اوښکی وی او ويني وی چی تويی شوی

ښاغلي يوسف اسلام دانګلستان په لندن کي زيږيدلي اوپه ۱۹۷۷ م کال کي داسلام په مبارك دين مشرف شوي دي دلته يي دافغانستان غازيانو ته اهدا کړي ديو ښکلي شعر ژباړه راوړو کوم چي اصل شعر په انګريزي ژبه دتکبير او نيزي په يوه وروستي ګنه کي خپور شوي دي همدارنګه به که خداي (ج) کول ددغه نوميالي مسلمان داسلام راوړلو په اړه به په راتلونکي ګنه کي د«زه ولي مسلمان شوم » ترسرليك لاندي درسره غږيږو .

افغانستان داسلام څمکه

ژباړه نجيب الله هميم

ټول خلك مري
اودي ته چمتو دي ترڅو دخپليويني هريو څاڅکي
دازادي اوسوکالي دلاس ته راوړلو پخاطر قربان کړي .
ټول خلك مري
ترڅوخپل هيواد
دخپلو پلرونو کور ، چاچي داسلام په لاره کي دځانونو
قرباني پيش کړي .
دغليم څخه ازاد کړي
افغانستان داسلام څمکه
لااله الاالله محمد رسول الله
پنځه مليونه خلك بي کوره شوي
څه دپاسه يو مليونو خپل ژوند له لاسه ورکړي
دادنيا څنګه ويده ده !!
داظلم اووحشت ولي نويني ؟
يتمان واړه ژاړي
ددوي اواز دهغه چا په وړاندي ډير اوچت او څرګند دي
څوك چي زړه لري او چا سره چي داوريدو توان شته
افغانستان داسلام څمکه
لااله الا الله محمد رسول الله
اي مسلمانانو ، اي مسلمانانو
فتحه او کاميابي ډيره رانژدي ده
تاريخ به داثابته کړي
چي دکفري لښکرو لارمخ په جهنم ده
او جنت دهغه چا امانت دي
څوك چي دتقوي او قاطعيت په زيور ښايسته شوي وي
هغه څوك چي وايي موږ خداي (ج) خلق کړي يو
اودهغي په لور ورګرځيدونکي يو
افغانسنان داسلام څمکه
لااله الا الله محمد رسول الله

ننګیالي اوخاطري يي

دلته څه پيښ شول ؟زموږ پر هيواد سور سيلاب راواوست ، سمدستی ددغه خونړی سيلاب دمخنيوی لپاره بندونه جوړ شول تتراو ککری سپر شوی ستندی دګوليو مخی ته ودريدل ، دلمبو باروتو او بمونو مخی ته دمومنو شازلمو صفونه وتړل شول او دانسانی تنو «بنيان مرصوص» ودريد سور سيلاب نه يوازی تم شو بلکی بيرته پر امو ورواوښت ، سری چينی وچی شوی سور بيرغ له سری مانی «کريملن» نه راښکته شو سری مجسمی له پارکونواو چوکونو نه ټولی شوی بالاخره سره فلسفه دسرو لمبو خوراك شوه ، ستره حادثه پيښه شوه ، دعصر معجزه ښکاره شوه ، يو زبر ځواك راپريوت ، څو دوسلو په زور نه دتوپونو ، ټانکونو ، الوتکو او ... په زور نه دايمانونو او غيرتونو په زور ، دوينو اوغوښو په زور دبی دريغه قربانيو او سرښندنو په زور .

معمولی انسانان وو خو دغير معمولی ارادو خاوندان .

بی کسه او بی وسه افغانان وو خو دقوی ايمان او پولادی عزم خاوندان راپورته شول ، دجها لاره يی خپله کړه دشرف عزت او شهادت لاره اوبالاخره سر لوړی راووتل ، ددغو سرلوړو اتلانو له ډلی نه مو يو مخی ته دی دحق او باطل په دغه توده جګړه کی يی وينی تويی شوی بدن يی نيمګړی شوی خو امت او ملت ته يی عزت اوشرف وربخښلی څوك دی پخپله ځان راښيی :

ښير خان دڅخان زوی دڅمکنيو ولسوالی اوسيدونکی يم ، کله چی له خپل مرکز څخه راووتلم په څمکه می يو پلاستيکی شی وليد چی پراته دی ، دراپورته کيدو سره سم هغه پلاستيکی شی وچاوديد او زما يو لاس يی غوڅ کړ .

جهادی يون

عاصم ثمرخيلی

تل به ستا ستاينه کيږی وار په وار
دولس دګوګل زړه دزړه قرار
چی دی يون دجهاد لاره کی پيل کړی
افغانان دی کړه راخلاص له لوی ناتار
تاچی پل کړلو اوچت په مخه لاړی
شی بری به دی په برخه رون سهار
چی دکفر لاردی وتړه ديوال شوی
داخپل سردی کړودخدای په لاره جار
چی دګرت توبری دی جوړکړلو له ځانه
په تتر دی ددښمن جوړ کړو خونبار
نه پوهيږم چی دستاپری دپولادو
لوی دښمن دی کړو روان په خپله لار
تاچی وژغوره ناموس دسرپه بيه
افغانان دی اوس ګيډی ږدی په مزار

پتـه خونده ټول جهان ته يي خبر ورسيد
مؤمن افغان دکمونيزم طلسمونه مات کړل
څومره هيبت يي دجهاد په ستر تکبير کي پروت وو
په يوه چيغه يي دکبر بنيادونه مات کړل

دنور څلی

ليکنه او ټولونه : سيد عابدالله

هارون الرشيد دحج دفريضی دادا کولو لپاره مکی مکرمی ته راغلی و په منی کی دپاتی کيدو په اوله شپه پداسی حال کی چی دشپی يوه برخه تيره شوی وه هارون رشيد خپل وزير فضل بن ربيع ته وويل : زما په زړه کی داسی تشويش پيدا شوی چی يوازی کوم عالم کولای شی هغه رفع کړی راځه چی اوس کوم عالم ته ورشو دواړه ووتل ډيرو عالمانو ته ورغلل خو دهارون رشيد دزړه اطمينان حاصل نشو په اخر کی دواړه دفضل بن عياض خيمی ته ورسيدل پداسی حال کی چی فضل بن عياض په لمانځه ولاړ وو کله چی هغه له لمانځه فارغ شو نوفضل بن ربيع دروازه وټکوله دننه دکور څخه غږ راغی چی څوك يی ؟

وزير ورته په ځواب کی وويل امير المومنين تشريف راوړی دی هغه په ځواب کی دکور څخه خواب ورکړ چی زما دامير المومنين سره څه کار

وزير وويل : سبحان الله ايا دامير المومنين اطاعت پرتاسو واجب ندی ؟ فضل بن عياض دروازه خلاصه کړه او چراغ يی مړ کړ اوپه يوه کنج کی ودريد هارون الرشيد اووزير يی دواړو په تيارو کی لاسونه وهل او هغه يی لټاوه ، کله چی دهارو ن الرشيد لاس پر فضل بن عياض ولګيده فضل ورته وويل څومره نوم لاس دی دی اوڅومره به دښه نصيب خاوند وی که دقيامت په ورځ دخدای(ج) دعذاب څخه په امن شی هارون الرشيد وويل خدای (ج) دی پر تارحم وکړی موږ چی دڅه هدف لپاره راغلی يو هغه پوره کړه فضل وويل تاسی دڅه لپاره راغلی ياست ؟ تاپر خپل نفس اعتماد کړی اوستا ملګری پرتا اعتماد کړيدی ولی خبره داده چی که ته خپل ملګری ته ووايی چی ستا دګناه لږ بار دی پخپله اوږه واخلی نوداکار به ونکړی څومره چی نن هغه ستا سره دزړه دکومی دمينی اظهار کوی همدومره به له تاڅخه ليری وتښتی فضل يو شيبه غلی شو پداسی حال کی چی خيمه همداسی تياره بيا يی خپلی خبری پيل کړی .

ای امير المومنينه کله چی عمر بن عبدالعزيز دخلافت واګی کی واخيستی نو سالم بن عبدالله او رجاو بن حيات يی راوغوښتل او ورته يی وويل زه پدی ازموينه کی راګير يم اوس ماته مشوره راکړی امير المومنين خپل خلافت اموزينه بلله خوته او ستا ملګری هغه يو نعمت بولی چی قبضه مو پری کړيديه سالم هغه ته په ځواب کی وويل که وغواړی چی دقيامت په ورځ دسخت او دردناك عذاب څخه ځان خلاص کړی نو دمسلمانانو دمشرانو سره دپلار په شان سلوك وکړه او دمنځنی عمر خاوندانو سره دورونو په شان او دکشرانو سره دزامنو په شان چلند وکړه دخپل پلار سره نيکی وکړی خپل ورونه په رحم او مهربانی ونازوه اوپه خپلو زامنو شفقت وکړه رجابن حيات ورته وويل :

که دقيامت په ورځ دخدای (ج) دعذاب څخه خلاصون غواړی نو دمسلمانانو لپاره هغه څه خوښ کړه کوم چی دخپل ځان لپاره خوښوی او هغه څه چی دځان لپاره بد ګڼی هغه دنورو مسلمانانو لپاره هم بد وګڼه نو بيا خپل ځان خدای (ج) ته وسپاره فضل زياته کړه امير المومنينه زه هم تاته همدا وايم چی زه تا دهغی ورځی دعذاب څخه ويروم چی ټينګ قدمونه هم پکی ښوئيږی خدای(ج) دی در بادنی رحم وکړی ايا ستا ملګری نعم دعمر بن عبدالعزيز دملګرو په شان دی چی تاته پداسی خبرو حکم

په ۷ مخ کی

وجود اسرائیل ... خطري براي امت اسلامي

ارسالي ميديا — ترجمه : خليل الرحمن عاصم

تحریک مقاومت اسلامی فلسطین (انتفاضه) علیه اسرائیل روح جدید جهاد را در وجود فلسطینها پیدا کرده است وامروز تمام جهان اسلام آنرا تائید مینماید وتنها همین تحریک میتواند ازفلسطینی ها نمایندگی کند .

درحقیقت مسله فلسطین در اول تنها منحصر به عربها بود واماامروز این مسله رنگ یک قضیه جهانی جهان اسلام رابخود گرفته است به خاطریکه بیت المقدس قبله اول مسمانها است وفعلا یهودی ها بران مسلط هستند که از تائید نصاراهم برخوردار اند .

درحقيقت مسله فلسطين در اول تنها منحصر به عربها بود واما امروز اين مسله رنگ يك قضيه جهاني جهان اسلام رابخود گرفته است به خاطريكه بيت المقدس قبله اول مسلمانها است وفعلا يهودي ها بران مسلط هستند كه از تائيد نصارا هم برخوردار اند

فلسطین مملکتی است که اکثریت باشندگان آنرا مسلمانها تشکیل میدهد واما امروز گروهی از یهودی ها بنام اسرائیل بالای چنین یک کشوری مسلط شده اند وهیچ گونه حقی رابرای اسکان ان دیار قائل نیستند وصد ها هزار مردم این کشور د رکمپهای مهاجرت زندگی میکنند که اسرائیل وممالک غربی وخصوصا امریکا برای نابودی شان کوشان اند .

اگر به حقیقت نگریسته شود اسرائیل درفلسطین به اثراختلافات مسلمانها ویک سازش جهانی بوجود امده که خطری برای امت اسلامی است وپشتیبانی امریکا از اسرائیل بخاطر تاسیس مرکزان درشرق میانه می باشد که خطری جدی رامواجه ممالک عربی گردانیده است .

یهودی هاهنگامیکه سه هزار سال قبل به فلسطین یورش برده بودند مردم راقتل عام کردند وحالاکه بعد از دو هزار سال داخل شدند به تباهی کاشانه های مردم دست زدند ظلمی راکه هتلر برانها کرده بود امروز انها زیاده از ان را بر فلسطینی ها روامی دارند درحقیقت فلسطینی های مظلوم هیچ قصوری ندارند جزاینکه از پشتیبانی هیچ قدرتی برخوردارنیستند .

مکاران وفریبکاران اروپایی بعد از جنگ جهانی اول پشتیبانی خود را از یهودی ها اعلان نمودند که دران وقت ۹۵ فیصدفلسطین رافلسطینی های مسلمان که تعداد شان به هفت صد هزار می رسید پنج فیصد باقی را یهودی ها تشکیل میدادند که تعداد شان تنها شصت وپنج هزار نفر بود .

این مکاران که خود راعلم بردار دیموکراسی وحامیان حقوق بشر می شمارند وادعا می کند که از هرمظلوم دفاع می نمایند همین اشخاص وممالک حق نود وپنج فیصد ملت را غصب نموده وبه پنج فیصد بخشیدند وکشوری رابنام اسرائیل تاسیس نمودند که درمرحله اول روس وبعدا امریکا انرا برسمیت شناخت واین رابرای جهانیان ثابت کردند که نظام جدید انها تنها برای هواداران شان است وبس .

اعلان اسرائیل مبنی بر تعمیرهیکل سلیمانی درمحل مسجد اقصی واخذ مناطق بیشترا اردن ، سوریه ، لبنان ، عراق وترکیه وتصرف نمودن مدینه منوره وتحت تسلط اوردن دریاهای نیل وفرات چلینج بزرگی برای مسلمانها است که نه تنها هدفشان تحت تسلط اوردن ممالک هم جوار فلسطین است بلکه امکنه مقدسه راهم دراین نقشه شامل نموده اند

این دو مکان مقدس مسجد اقصی ومدینه منوره است که مسله فلسطین رامسله امت اسلامی گردانیده است وهیچ مسلمان نمی تواند خود را ازاین قضیه دورنگه دارد .

حالا این مسله حیثیت قضیه سیاسی خود رابه مذهبی تغیر داده که هیچ کسی نمی تواند از ان انکارنماید وبر مسلمانها لازم است که از هرچه تدبیر بیشتر کار کرفته خود را اماده مشکلات بعدی سازند تا از اماکن مقدسه حفاظت بعمل اورد بتوانند ودرعین خال این مسله از لحاظ ازادی ، عزت ، شرف ، وقار وایمانداری مسله دارای اهمیت است که تمام مسلمانان جهان دران یکسان اند .

ممالک اسلامی وحکام انها در خواب غفلت اند وهمه به نوع ازانواع غلامی بادارانی را که درحقیقت از وجود اسرائیل پشتیبانی می نمایند قبول کرده اند که هیچ کدام رادر قطار ممالک قادر وازاد نمی توان شمرد لذا برخود مردم فلسطین لازم است که بردیگران اتکا ننمایند وبه جهاد خود ادامه بدهند وهیچ نوع صلح و سازش راقبول نکنند که صلح وسازش صرف برای برسیمت شناختن اسرائیل وغالب گردانیدن آن است

ممالك اسلامي وحكام انها درخواب غفلت اند وهمه به نوع از انواع غلامي باداراني راكه درحقيقت از وجود اسرائيل پشتيباني مي نمايند قبول كرده اند كه هيچ كدام رادرقطار ممالك قادر وازاد نمي توان شمرد

وبس .

برای حل مشکلات جهان اسلام اگر نکات ذیل مراعات وعملی گردد تمام مشکلات امت اسلامی رامیتوان حل کرد :

۱- ضرورت به یک پارچکی و وحدت جهان اسلام است که دران قدرت ونیروی مسلمانها نهفته است ودراختلافات شان شکست ورسوایی است

۲- ضرورت به اصول وموقف واحد است که تمام ممالک اسلامی از ان پیروی نمایند

۳-خود انحصاری ممالک اسلامی از اسلحه که البته به یک کارخانه اسلحه سازی ضرورت است وپاکستان میتواند رول مهم در ان بازی کند .

٤- علما ودانشمندان ازطریق دعوت وتبلیغ فریضه خود را انجام دهند تا جذبه جهاد را در دل و اذهان عامه مردم بیدار سازند .

٥- ممالک اسلامی باید استراتیژی واحد نظامی ودفاعی داشته باشند .

٦- مسلمانها باید تربیه نظامی حاصل نمایند وهر کشور اسلامی باید ده هزار عسکر را برای جهاد فلسطین اماده سازد .

۷- یک وفد از مسلمانها باید به ملل متحد برود ودرانجا کوشش نماید فیصله نامه ایرا به تصویب برساند تا تمام یهودی های که از کشورهای دیگر فلسطین امده اند به کشور شان بازگردند بگذارند فلسطینی هاراکه بعد از یک رای گیری سرنوشت خود راخود تعین کنند .

۸- تمام ممالک اسلامی پشتیبانی خود را ازتحریک مقاومت اسلامی (انتقاضه) ابراز بدارند تا اسرائیل دیگر به اعمال وحشیانه اش جسورانه اقدام کرده نتواند ودرعین حال باید این کنفرانس های نام نهاد صلح

در رابط با قضیه فلسطین تقبیح کردند زیرا این تنها بخاطر بقای نظام جدید امریکا در جهان وخصوصا درشرق میانه است .

دنبوی (ص) لمر زرینی ...

رسول اکرم (ص) دخالد له ورور ولید ابن ولید څخه چی دده دلاری ملگری وو وپوښتل :« خالد چیرته دی ؟ ډیره دافسوس خبره ده چی ده غوندی پوی او زیرک سړی داسلام څخه بی برخی پاتی شی ، که هغه دمسلمانانو په ملگرتیا دمشرکینو سره جنگیدلی نو دده لپاره به بهتره وه » ولید«رض» وویل : خالد به یوازی الله (ج) راولی !

رسول کریم (ص) چی دخالد په هکله څه فرمایلی وو ولید«رض» هغه دیوه لیک په ترڅ کی خالد ته ولیکل او لیک یی خالد ور واستاوه چی دغه لیک له خالد سره دوروستی پریکړی په هکله ډیره لویه مرسته وکړه .

خالد (رض) په خپله وایی :

«دورور لیک زما په زړه باندی غوړیدلی پردی لیری کړی رسول کریم(ص)چی زما په هکله څه فرمایلی وو دهغی له امله زما دخوښی هیڅ حد نه وو ، زما زړه داسلام لوری ته میلان پیدا کړ په هماغه ورځو کی مایوخوب ولید چی زه دتنگو ، ورانو او قحطی وهلو کلیو څخه وتلی وم او پراخه شنو او ښی هوا لرونکو ښارونو ته راغلی یم له همدی امله ما مدینی منوری ته دتللو پخه اراده وکړه ».

کله چی خالد (رض) مدینی منوری ته دتللو پخه اراده وکړه نو دخپلو نژدی دوستانو صفوان ابن امیه او عکرمه بن ابی جهل سره یی بیل بیل وکتل او هغوی ته یی وویل :« تاسی وینی چی محمد (ص) پر عربو او عجمو باندی بریالی اوغالب دی نو که موږ هم دهغه اطاعت ومنو په هغه شرف او عزت کی به شریکان شو ، چی دی یی تر لاسه کوی» .

ولی ددی دواړو پلرونه ، او خپل خپلوا ن دبدر په غزا کی په قتل رسیدلی وو او دخالد (رض) دغوښتنی په اړه دواړو تقریبا یو ځواب درلود او هغه داچی که څه هم توله نړی مسلمانان شی موږ به په محمد (ص) باندی ایمان رانه وړو.

تردی وروسته خالد (رض) دخپل یوه بل دوست عثمان بن طلحه (رض) سره وکتل هغه ته یی وویل «زموږ مثال په سوروی کی دپټی گیدری په شان دی که په سوروی باندی چا ډیری اوبه راپریښوی نوخامخا به له دغه سوروی څخه وزو ، موږ گورو چی مسلمانان بریالی کیږی بیا ولی تر هغی مخکی نه مسلمانیږو»؟

دأحد په جگړه کی دعثمان بن طلحه (رض) پلار ، تره او څلور وروڼه په قتل رسیدلی وو ، او خالد (رض) ترډیر تذبذب وروسته دخپل زړه خبره ورته وکړه ولی دهغه عکس العمل تر انتظار ډیر لیری وو، غالباً هغه هم په دغه دو زړی توب او تذبذب کی ښتی وو ، هغه دخالد (رض) سره دملگرتیا فیصله وکړه او سبا ورځ دواړه ملگری دمدینی منوری په لاره روان وو ، ناهدهاپه سیمه کی یی دحضرت عمرو بن العاص (رض) سره لیدنه وشوه هغه هم داسلام په اراده له حبشی څخه راغلی وو او مدینی منوری ته روان وو .

کله چی ددریو نیک بخته ځوانانو دغه ډلگی مدینی النبی ص ته ورسید نو دخوشحالی او خوښی فضا په دغه ښار گوټی کی خپره شوه رسول کریم ص وفرمایل : «ای مسلمانانو ! مکی دخپل زړه ټوټی تاسی ته وړاندی کړی دی »!

دخالد «رض» له مسلمانیدو څخه دری میاشتی تیری شوی وی چی دموتې غزا واقع شوه داسلام تر بیرغ لاندی پدی لومړی جگړه کی هغه دخپلو خدای ورکړیو استعدادونو ښودنه په ښه توگه وکړه .

شرجیل بن عمر غسانی درومی سلطنت له لوری نه دشام دعربی سیمی والی وو، رسول الله(ص)دحارث بن عمر ازدی (رض) په لاس دده په نامه یو مکتوب ولیږلو ، شرجیل په قهر شو او حارث (رض) یی په شهادت ورساوه .

دنړیوال قانون له مخی دسفیر وژنه جرم او دیوه حکومت په دفترونو لویه حمله بلل کیده رسول الله« ص» دحارث (رض) دکسات اخیستلو په غرض یو لښکر دشام لوری ته ولیږلو چی دهغی سالار او مشر حضرت زید بن حارثه (رض) وو دلښکر دتللو په وخت رسول کریم (ص) هدایت وکړ چی که زید (رض) په شهادت ورسید نو جعفر بن ابی طالب به دلښکر قیادت په

په ٦ مخ کي

دامام ابوحنیفه (رح) داجتهادیوه بیلګه !

مولانا عبدالمجید

امام ابوحنیفه (رح) ته خدایتعالی ډیره قوی او لوړه اجتهادی قوه او علمی پیاوړتیا اوپه ډېرو مرموزو شیانو پوهه وربخښلی وه دابوحنیفه څخه په یومحفل کی پوښتنه وشوه :
ایا تاسو کله پخپل اجتهاد پښیمانه شوی یاست ؟
هغه وویل هو ! زه یو ګل پخپل اجتهاد باندی پښیمانه شوی یم او هغه دا چی یو وار له ماڅخه څو تنو پوښتنه وکړه او ویی ویل چی یوه امید واره ښځه مړه ده اوپه ګیډه کی یی بچی ژوندی دی څه باید ورسره وکړو ؟
ما ورته وویل دښځی ګیډه څیری کړی او ماشوم ترینه راوباسی .
وروسته ما ډیر افسوس وکړ اوپخپله فیصله باندی پښیمانه شوم ځکه زما د حکم له امله ممکن مړی ښځی ته تکلیف رسیدلی وی او خدای تعالی ښه پوهیږی چی ماشوم به یی ژوندی راویستی وی اوکه به ترینه مړشوی وی ؟
سایل «پوښتنه کوونکی» وویل محترمه ستاسو دا اجتهاد دخفګان وړ نه دی بلکه دشکراوامتنان وړ دی او دباری تعالی مهربانی درسره مل ده .
زه هماغه ماشوم یم چی ستاسو داجتهاد په برکت خدای (ج) دمړی مورد ګیډی څخه ژوندی راویستی یم .
اواوس خو الله تعالی رابانـدی نور زیات احسان هم کړیدی چی دعلم او فقاهت په نعمتونو یی هم نازولی یم .
وایی چی امام احمد طحاوی لومړی دشافعی مسلك پیرو وو ، څرنګه چی امام طحاوی د پیل څخه سبقونه او درسونه دخپل ماما مزنی څخه لوستی ؤ نودیو پلو مزنی دشافعی مسلك خاوند ؤ اوله بله پلوه دامام طحاوی ناسته ولاړه هم دهمدغه مسلك له پیروانو سره وه نو طبیعی ده چی هرشاګرد په اخلاقی عملی اوعلمی برخوکی داستاد انو څخه متاثروی او دمجلس تاثیر هم پدی برخه کی پوره رول لری .
کوم وخت چی امام طحاوی ته دمطالعی تحقیق او علم په ذریعه حقیقت څرګند شو شافعی مسلك یی پریښوده او حنفی مسلك یی غوره کړ .
امام احمد طحاوی دمسلك دبدلون په اړه داسی څرګندونه کوی وایی مایوه ورځ دخپل استاد مزنی سره سبق لوسته چی په کتاب کښ دامسله رامخی ته شوه .
که یوه حامله ښځه مړه شوه او په ګیډه کی یی بچی ژوندی ؤ دامام شافعی په رایه دښځی دګیډی څیری کول او ماشوم راویستل جایز نه دی ددی په خلاف امام ابو حنیفه وایی چی دښځی ګیډه دی څیری کړای شی او دماشوم دژوندون دنجات هڅه دی وکړای شی .
امام احمد طحاوی چی کوم وخت دامسله واوریده نیغ پاڅیده او ویی ویل چی زه به دداړول امام مسلك څنګه ومنلای شم چی زما غوندی انسان دمرګ پروانلری «کله چی امام طحاوی دمور په ګیډه کی ؤ مور یی مړه شوه نو دحنفی فقهی دفتوی په اساس یی دمور ګیډه څیری کړی شوه او دی ورڅخه ژوندی راوویستی شو» .
ددی بحث او مباحثی څخه وروسته امام طحاوی دحنفی فقهی مطالعه او تحقیق پیل کړاوداسی پوړی ته ورسید چی دفقهی او احادیثو په علوموکی یی په خپل وخت اوزمانه کی سیال نه ؤ .
یو بل روایت داسی هم شته چی وایی محمد بن احمدالشروطی دامام طحاوی څخه پوښتنه وکړه چی تاسو ولی دخپل ماما مسلك پریښوده او حنفی مسلك ته واوښتی .
امام طحاوی په ځواب کی وویل : ما ډیر ځله لیدل چی زما ماما دابوحنیفه کتابونه مطالعه کوی او فایده ترینه اخلی .

> امام احمد طحاوي چي کوم وخت دامسله واوریده نیغ پاڅیده او ویي ویل زه به دواړول امام مسلك څنګه ومنلاي شم چي زما غوندي انسان دمرګ پروا نلري

> له امام طحاوي څخه پوښتنه وشوه چي تاسو ولي دخپل ماما (مزني) مسلك پرېښود اوحنفي مسلك ته واوښتي ؟ هغه ځواب ورکړ: ما ډېر ځله لیدل چي زما ماما دابوحنیفه (رح) کتابونه مطالعه کوي او فایده تري نه اخلي

دنبوی (ص) لمر ...

غاړه واخلی اوکه جعفر (رض) هم په شهادت ورسید نو عبدالله بن رواحه (رض) اوکه هغه هم په شهادت ورسید نو مسلمانان چی څوك غواړی خپل امیر دی یی وټاکی .
اسلامی لښکر چی کله دبلقا په سرحد کی معان نومی سیمی ته ورسید معلومه شوه چی دهرقل یو لوی پوځ دمواب (اوسنی کرك) سره نژدی خیمی وهلی دی دمسلمانانو شمیر یوازی دری زره وو او رومیان ددوو لکو په شاوخوا کی چی دهغی څخه یو لك تنه هغه نصرانی عرب وو چی څه موده پخوایی ایرانیانو ته سخته ماتی ورکړی وه .
دمسلمانانو لښکر په معان کی هستوګن وواو تردوه ورځو پوری یی په خپل منځ کی سلا مشوری کولی ، پدی ترڅ کی رومی لښکر وړاندی راغی او دموتی سیمی ته چی دلوط دبحیری دجنوبی برخی ختیز لوری ته یو وړوکی کلی دی راورسید ، دمسلمانانو په لښکر کی یوه نظریه داهم وه چی رسول الله (ص) ته دی خبر ورکړل شی او دهغه مرستی او فرمان ته دی انتظار وایستل شی کله چی حضرت عبدالله بن رواحه (رض) مسلمانان دتذبذب او دوه زړی توب په عالم کی ولیدل پاڅید او په واچت اواز یی غږ وکړ :
«ای مسلمانانو تاسی دشهادت په غوښتنه راوتلی یاست !موږ دشمیر او قوت په حساب نه بلکه دهغه دین لپاره جنګیږو دکوم له برکته چی الله (ج) موږ په عزت او شرف سرلوړی کړی یو نو پاڅیری خپل صفونه ترتیب کړی مخ په وړاندی لاړ شی اوله دښمن سره وجنګیږی له دوو نیکیو څخه به یوه ضرور په لاس راځی یافتحه یا شهادت» !!
ددی پر جوشه وینا څخه په مسلمانانو کی نوی ساوچلیده له معان څخه مخ په وړاندی ولاړل دمواب دغرونو له لمنو څخه په اوښتو سره دموتی په پراخه میدان کی له دښمن سره لاس او ګریوان شول. دړومیانو یو غټ لښکر وو چی تر ډیرو لیرو سیمو پوری خپور وو ، دمسلمانانو شمیر دهغی په مقابله کی په اوړو کی دمالګی حیثیت درلود ، خو دلږ تعداد سره سره یی ځانونه قربانی ته ورکړل زید بن حارث (رض) درسول کریم ص له خوانه ورکړل شوی سپین بیرغ په لاس کی په جګړه بوخت وو دجګړی په ترڅ کی ددښمن په محاصره کی راغی ناڅاپه یوه نیزه پری ولګیده اوپه شهادت ورسید ، جعفر بن ابی طالب له خپل آس څخه ښکته شو او بیرغ یی اوچت کړ اوس دښمن پر هغه یرغل کولو ، دهغه ښی لاس پری شو او وغورځید خو هغه بیرغ په کیڼ لاس کی واخیست وروسته بیا دهغه کیڼ لاس هم پری شو خو هغه داسلام بیرغ پر ځمکه غورځیدو ته پری نښود او ددواړو غوڅو لاسونو په مړوندو یی (په سینه پوری) ونښلاوه خو کله چی جعفر ابن ابی طالب (رض) هم په شهادت ورسید نو عبدالله بن رواحه (رض) اسلامی بیرغ اوچت کړ او تر سختی مقابلی وروسته هغه هم په شهادت ورسید .

نوربیا

الجزایر - دیموکراسي...

سرپرست ۳٦ کلن انجینر عبدالقادر حشانی دی .
۲- بل ګوند په نامه دحرکت مجتمع اسلامی دی پخوانی نوم یی جمعیت ارشاد و اصلاح و مشر یی محفوظ نحناح دی دغه ګوند هم داسلامی تحریك یوه برخه ده
۳- حرکت نهضت یو بل ګوند دی چی داسلامی تحریك یوه برخه ده مشر یی یو تعلیم یافته ځوان جالب الله دی .
دغه دریو واړه ګوندونه دیوه مرام لپاره کار کوی چی هغه په الجزایر کی داسلامی دولت منځ ته راوړل دی خودځینو مزاجی مخالفتونو اودبیرونی اسلام ضد عناصرو او شیطانی لاسوهنو په وجه دمخالفتونو ښکار دی
٤- دملی نجات جبهه : واکمن ګوند دی چی د ۱۹٦۲ څخه راپدیخوا دپوځ په مرسته په الجزایرحکومت کوی ځینی اسلامی ذهن لرونکی هم لری ولی دکمونستانو او دغربی او اروپایی کلتور دطرفدارانو. پله یی درنه ده .
٥- بل سوسیالیستی دیموکراتیك ګوند دی چی مشر یی ایت حسین دی چی په ډاګه دکمونستی چغی وهی دبربر دنسل سره اړیکی لری په انتخاباتو کی دقومیت نعره پورته کوی اوپه دی خبره ټینګ ولاړ دی چی باید الجزایر دفرانسی پوری تړلی وی .
نو اصل مقابله هم دهمدغو ګوندونو تر منځ وه په لومړی مرحله کی چی په ٤۳۰ چوکیو کی یی په ځینو انتخابات وشول نوداسلامی ژغورنی جبهی پکی تر ټولو زیات ۱۸۹ چوکی وګټلی وریسی سوسیالیست ډیموکراټیك ګوند ۲٥ چوکی حکمران ګوند ۱٦ چوکی حماس ۲ چوکی اوحرکت نهضت یوه چوکی ترلاسه کړای شوی اوپه ډاګه وه چی دوهمه مرحله چی په ۱٦ جنوری به تر سره کیده یو وار بیا اسلامی ژغورنی جبهی لادینو قوتونو ته خوله ماتوونکی ګذارورکاوه نودهمدی ویری له امله لادینه قوتونو ددوهمی مرحلی دانتخاباتو مخه ونیوله ترڅو په الجزایر کی دمسلمانانو پر ځای همدغه بی دینه اشخاص خپل نظریات مخکی بوځی ، که څه هم له انتخاباتو مخکی یی جبهه تر ډیر فشار لاندی نیولی وه دجبهی دغړو لپاره ربړول زوروول نیول او بندی کول یوه عادی خبره وه دانتخاباتو په دوران کی لادینه قوتونو دجمهوریت جمهوریت چغی ووهلی تردی پوری چی په ۲٦ دسمبر کوم چی دانتخاباتو ورځ وه په الجزایر کی یوی فرانسوی ژبی ورځپانی غټ غټ ولیکل چی نن دجمهوریت ورځ ده اوسبا ته همدی ورځپانی ولیکل چی جمهوریت ناکام شو معنی داچی یعنی دمسلمانانوکامیابی دجمهوریت ناکامی ده او دلادینه قوتونو پایښت او کامیابی دجمهوریت کامیابی ده .
که څه هم واکمن ګوند دخپلو ټولو شومو پلانونو سره چی داسلامی ژغورنی جبهی دټوټه ټوټه کیدلو لپاره یی په کار اچولی و دالجزایر خلکو په انتخاباتو کی شنډ او خنثی کړل ترخپله وسه یی خپلی رایی دمسلمانانو ګوند ته ورکړی اوپه را روانه مرحله کی یی هم ښه پتیلی وه چی داسلامی ژغورنی جبهه به داقتدار په ګدی داسلامی دولت دمنځ ته راوړلو لپاره کینوی نوله یوی اوبلی خوا څخه لادینه قوتونو مخې پیل کړی یو لاس شول ترڅو په الجزایر کی داسلامی دولت مخه ونیسی نو همغه وه چی خپل ناوړه عمل یی ترسره کړ انتخابات یی وځنډول اویوه تش په نامه دامنیت شورا یی منځ ته راوړه خو دالجزایر مسلمانان به هیڅکله هم دلادینه قوتونو دغه تاریخی اوله شرمه ډك خیانت له یاده ونه باسی اویوه نه یوه ورځ به دغه داستعمار بچیان دخپلو ناوړه عملونو په جزا ورسوی .
انشاالله

ظاهرشاه دسولی سالار که دروانی فاجعی مسول ؟!

او اسلام ضد فعالیتونو دروازی دهمدغه انسان دواکمنی په دوره کی خلاصی شوی چی نن یی ځنی حلقی موږ ته دسولی او ارامی دمسیحاپه ځیر راښیی. که دظاهرشاه دتیرو کړووړو او بی پروایی څخه تیر شو هم په هغه کی دومره صلاحیت او کفایت نشته چی افغانستان ته دی سوله راوستلی شی .

ځکه هغه په هیواد کی له څو کسو او څه وړو ډلگیو پرته دچا حمایت نشی ترلاسه کولی .

خو دپورتنیو څرگندونو سره سره په یوه ترخه واقعیت باید اعتراف وکړو چی نن که څوك زموږ هیواد ته دمرگ په پوله ولاړ ظاهرخان دسولی دداعی او قهرمان په حیث معرفی کوی اویا بل هغه ته ور ته هیرو او اتل راته تراشی ټول زموږ دجهادی قیادت دبی پروایی نتیجه ده .

زموږ مجاهد ملت دخپل دین ، او هیواد په وړاندی خپل دین په ښه صورت ادا کړی دی اوپردی ټول جهان اعتراف کوی ، دهمدغه نر او اتل ملت دقربانیو او قهرمانیو برکت و چی سره امپراطوری ټوټه شوه ډیر ولسونه خپلواك شول او پر نړۍ کی عظیم بدلونونه راغلل ، خو ملت مو دجهاد له پیله تر ننه دیوه واحد قیادت په ارمان کی پاتی دی ، په رڼو سترگو وینو چی داختلاف په کرغیړنو لمبو کی مو دسلگونو شهیدانو او زرگونو غازیانو په وینو او مټو گټلی برم او پرتم لوخړه کیږی او ایری کیږی خو بیاهم د« میم زبرما » کیسه ده او دهمدغی کیسی په تکرار کی به که خدای (ج) مه کړه ټول دخپل ملت دگټلی پرتم په سوځیدلو ایرو ولاړ یو او هیڅ به په لاس نه وی راغلی.

دروس ټوټه کیدل اوله منځه تلل ددی معنی نه لری چی استکبار ختم شو ، طاغوت ړنگ شو او نور به مسلمان امت په ارامه ساه واخلی ، دروس ختمیدل تر ډیره حده داستکبار دسیسی نوری هم داسلامی امت په لوری ور واړولی ، چی ددغو دسیسو دخنثی کولو لپاره باید ځانی گټی که څه هم برحقه توجیه کیدای شی تر ټولنیزو گټو قربان شی .

که نه وی نو دجهادی ځواکونو تر منځ اوسنی اختلاف او ځانځانی به خامخا دهیواد راتلونکی نورو ته حواله کوی ، که ظاهرخان وی اوکه بل داستکبار غلام خو واضح ده چی ملت دجهادی قیادت افتراق او ځانځانی نوره نه شی تحمل کولی ، ښایی داختلاف عوامل اوس دومره خطر ناك او ژور نه وی چی لری نه شی خو دوخت په تیریدو ممکن بیا دازمینه هم برابره نشی چی که ټول په یو والی او اتحاد کی خپل نجات وبولی هم تر منځ به داختلاف غروته دومره لوړ دریدلی وی چی راغورځول او پری ختل به محال وی .

بیا به ظاهرشاه اویا بل دنورو لاسپوځی ته زموږ داتل ولس دبرمیال جهاد دهیرو او اتل هار په غاړه کی ورلویږی هغه هار چی دلکونو شهیدانو دوینو غوټی به یی گلونه وی او خدای (ج) مه کړه له دومره ستری قربانی سره سره به پر هیواد داسلامی نظام قیام یو هسی خوب وی چی تعبیر به یی نه وی .

والسلام

دنور ځلي ...

وکړی ؟ ددی خبرو په اوریدلو سره هارون الرشید په ځمکه پړمخه پریوت دومره یی وژړل په بی هوشه شو وزیر فضل ته وویل :

دامیر المومنین سره نرمی وکړه !

فضل ورته وویل ای ربیع زویه ! تااوستا ملگرو هغه وژلی اواوس ماته دنرمی تلقین کوی ! کله چی هارون الرشید حالت لږ ښه شو نو ویی ویل لږ نور څه هم ووایه :

فضل وویل ای امیرالمومنینه یو ځل عمر بن عبدالعزیز ته یووالی شکایت وکړ چی زما کار دومره ډیر دی چی ان دخوب وخت هم نلرم عمر بن عبدالعزیز ورته ولیکل ای وروره !

دوزخیان به په دوزخ کی دتل لپاره ویښ وی اونه به ویده کیږی .

پاکستانی اجناس دمنځنی اسیا په ښارونو کی

البنیان خبری اژانس دجدی ۳۰مه :

یو تن سپین ږیری حاجی عبدالرحیم چی تیره ورځ دکندز څخه کابل ته اوبیا دلغمان له لاری پیښور ته رارسیدلی دالبنیان خبری اژانس ته وویل چی دروانی میاشتی له لومړی ورځی راپه دی خوا یو زیات شمیر افغانی سوداگران په ډله ایزه او خصوصی توگه د پاکستان نخی او وړینی ټوټی او خوراکی مواد په بدخشان کی د« درواز» او په کندز کی د« حیرتان » بندر له لاری دافغانستان له سرحد نه بلی غاړی ته دکایروف اباد سرحدی ښار گوټی ته رسوی چی له دی ځایه په اورگاډی کی ددوشنبی ښار ته انتقالیږی او همدارنگه په مزارشریف کی دشورتیپې له لاری نوموړی اجناس دترمذ ښار ته رسول کیږی اوبیا دازبکستان دجمهوریت ځینو ښارونو او کلیوالو سیمو ته انتقال مومی اودهغی په مقابل کی دتراکتورونو پرزه جات ایرکنډیشنونه ، یخچالونه ، دبریښنا سامان الات ، نکلی لوښی او دموټرو ټایرونه دحیرتان په لویه لار کابل او دجلال اباد اوبیا په قاچاقی لارو دپاکستان قبایلی سیمی ته راوړل کیږی او په دوه او دری چنده لوړه بیه باندی پلورل کیږی .

حاجی عبدالرحیم زیاتوی څرنگه چی افغانی خپل قیمت له لاسه ورکړی اوپه کابل کی نن سبا یو امریکایی ډالر نږدی په یو نیم زر افغانیو باندی تبادله کیږی نودکابل رژیم دغه قاچاقبرانو ته په امتیاز ورکولو سره هڅه کوی چی دپیښور په تور بازار کی دډالرو نقدی پیسی تر لاسه کړی ترڅو وربانډی له یوی خوا دافغانستان دملی بانك دپیسو لپاره پشتوانه پیدا کړی اوله بلی خوا وربانډی دهند ختیځی اروپا اودلری اسیا دځینو هیوادونو څخه دخپلی اړتیاوړ مالونه او اجناس خریداری کړی .

اسلامي عمران اودهغي اهمیت

دروان کال دجدی په ۲۳ مه نیټه داسلامی ثقافت ددعوت مرکز په دفتر کی داسلامی عمران اودهغی اهمیت تر عنوان لاندی یو علمی مجلس جوړ شو چی په هغه کی دافغانستان دبیا ودانولو او عمران په رابطه ډ اکتر احمد فرید مصطفی عالمانه خبری وکړی او دمجلس په پای کی یی دحضارو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل .

دغه غونډه چی مازیگر په څلور بجو دمرکز دمشر ډاکتر محب الله وحدتی په افتتاحیه وینا پیل شوه په دووناستو کی یی دوام وموند

ډاکتر محب الله وحدتی پخپلو خبرو کی وویل : افغان مجاهد ولس نن دخپل برحقه جهاد په یوه حساسه مرحله کی واقع دی ، دوی دری حساسی مرحلی په مخ کی لری په هیواد کی داسلامی حکومت قیام پدی اړه داستعماری او کفری موامرو او توطئو مقابله او دوران شوی او جنگ ځپلی افغانستان بیا رغاونه او ابادول ...

ډاکتر [illegible]تی په خپلو خبرو کی وویل : داسلامی ثقافت ددعوت مرکز دخپلی کړنلاری له مخی غواړی چی وخت په وخت دخپلو فکری فرهنگی او تعلیمی پروگرامونو په څنگ کی دافغانستان دراتلونکی په هکله هم دعلمی غونډو او طرحو له لاری دخدمت مصدر وگرځی .

له همدی ځایه ده چی د اسلامی امت یو سترگور دانشمند او عالم ډاکتر انجنیر احمد فرید مصطفی چی د دعوت او جهاد پوهنتون دانجینری پوهنځی کی داستادی ترڅنگ دافغانستان دبیا ودانولو ددفتر مشر هم دی بلنه ورکړی شوی چی دخپلو علمی تجربوله مخی دافغانستان دبیا ابادی په رابطه خپل نظریات وړاندی کړی .

انجینر داکتر احمد فرید مصطفی دانجینری په برخه کی لوړه زده کړه کړی پدی څانگه کی یی ماستری او دکتورا اخیستی او په گڼو پروژو کی یی دعملی کار ارځښتناك خدمتونه ترسره کړیدی .

دداکتر وحدتی له وینا وروسته ډاکتر احمد فرید مصطفی په خپلو خبرو کی وویل :

اوس په اسلامی نړی کی دبیداری او غورځنگوڅپی خپانده شوی دی له همدی ځایه ده چی باید دخپل ژوند ټولی چاری اوپروگرامونه پخپله طرحه اوسرته ورسوی .

زه دوخت دنشتوالی له امله غواړم بیله مقدمی پر اصلی موضوع بحث وکړم .

اسلامی امت باید په عمرانی چارو کی خپل لیاقت استعمال او له خپل کفایت څخه کټه واخلی .

پردی چی زموږ لپاره دکومو ښارونو اوکورونو نقشه وړاندی کوی او هغه جوړوی هغه داسلامی نړی له فکری روانی او عقیدتی اصولو سره اړخ نشی لگولی له همدی ځایه ده چی باید دوران شوی افغانستان بیا ودانول داسلامی طرز له مخی پیل شی .

موږ باید دهرڅه او هری ودانی اساس په تقوا باندی کیږدو اسلامی عمران باید پر تقوا بناوی که موږ پدی رابطه جدی فکر اواقدام ونکړو پردی به زموږ لپاره داسی پروگرامونه او نقشی رامخی ته کړی چی زموږ له کلتوری ، فرهنگی او اعتقادی اصولو سره پیوستون نشی پیدا کولی .

نوموړی پدی رابطه یو فورمول وړاندی کړ ویی ویل باید دمختلفو مناطقو طبیعی او موسمی جوړښت او دنفوسو شمیر په نظر کی ونیول شی او دهغی له مخی په عمرانی چارو لاس پوری شی. ډاکتر احمد فرید مصطفی زیاته کړه موږ باید په خپلو عمرانی پروگرامونو کی دیوی خاصی طبقی دژوند شرایط او احتیاجات په نظر کی ونه نیسو بلکی دټولنی داکثریت دوضعی او شرایطو له مخی پلان گذاری وکړو ځکه موږ باید له لږو امکاناتو څخه ډیره استفاده وکړو داسی نه چی یواځی دجامعی مشرانو او مخورو ته ښکلی او قیمتی کورونه جوړ شی او نوره ټولنه له محرومیت سره مخامخ شی .

دډاکتر احمد فرید مصطفی له خبرووروسته حضارو دافغانستان داسلامی رغاونی او ابادی په هکله پوښتنی وکړی چی دډاکتر احمد فرید له خوا ورته ځوابونه وویل شول .

پدغه علمی مجلس کی گڼو مجاهدو شخصیتونو او دنظر خاوندانو برخه لرله گډون کوونکو نوموړی موضوع ډیره ارځښتناکه وبلله او ددغه ډول مجلسونو په جوړولو یی دټینگار څرگندونه وکړه .

دظاهرشاه بیرته!..

ځکه دظاهر شاه بیرته راتگ ددی سیمی ، سیاسی اونظامی اشتباه ده ځکه هغه به پخوانی مسایل یو ځل بیا راپورته کوی اودپاکستان په مقابل کی به دهند ملاتړ او دوستی کوی .

الحاج حقانی زیاته کړه چی مجاهدینو له روسانو څخه دوینو په بیه داسلام افتخارات گټلی له همدی امله باید ځینی کسان له احتیاط څخه کار واخلی او دغه افغانی برم او شوکت په اوبو لاهو نکړی .

اوکه افغانانو ته یی دظاهرشاه په څیر سوغات راووړ نو یو ځل بیا به په افغانستان کی دوینی توئیدو سبب شی .

زه په پوره ډاډ ...

کی داوحدت وساتل شی دا وحدت دافغانستان دراتلونکی لپاره ډیر موثر دی په راتلونکی کی داسلامی افغانستان دامنیت لپاره هم دادقوماندانانو وحدت کولی شی موثر اقدامات وکړی موږ هڅه کوو چی داسی یوه توافق ته ورسیږو چی دافغانستان داکثریت موافقه پری شوی وی خوکه بیا هم که په ځینی مواردو کی دقوماندانانو تر منځ دنظر اختلاف وی نو دشورا ټول غړی به داکوښښ کوی چی اختلافی موضوعاتو باندی زیات بحث ونکړی ترڅود دوی په منځ کی وحدت وساتل شی دغه مطبوعاتی کنفرانس چی دقوماندانانو شورا په سیاسی دفتر کی جوړ شوی وو ، دغرمی د دولسو بجو په شاوخوا کی دغرمی ډوډی په خوړلو سره پای ته ورسید .

دهیواد په تودومورچلو کی

غزنی :

دقوماندانانو شورا نظامی دفتر له دی ولایت څخه رپوټ ورکوی چی مجاهدینو دغزنی ښار دقلعه کوچی په سیمه کی درژیم په امنیتی کمربند باندی ددرنو وسلو برید وکړ چی ددښمن یو شمیر سنګرونه یی ویجاړ کړی او ددښمن دقواوو یو قوماندان او څو تنه ملیشه یی پکی وژلی .

رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو پدی بریالی برید کی دغزنی په ښار کی درژیم امنیتی کمربند مات کړی او زیات مالی تاوان یی وراړولی .

سمنګان :

میډیا دیوی جهادی خبر ځای په حواله رپوټ ورکړی چی ددی ولایت با تورو مجاهدینو تیره اونی دجدی په ۲۱ مه ددی ولایت دمرکز په امنیتی کمربند برید وکړ چی درژیم یوه پوسته یی ویجاړه ، یو شمیر عسکر او ملیشه یی وژلی اویوعراده زغروال ټانك اویو مقدار مهمات یی ولجه کړل همداراز دقوماندانانو شورا نظامی دفتر رپوټ ورکړی چی مجاهدیو دایبك ښار په شمال لویدیزه سیمه دمزار شریف ، ایبك په لویه لاره درژیم یوه نظامی قرارګاه تربرید لاندی ونیوه چی دنورو مالی او ځانی تاوانونو سربیره یی ۲۳ تنه عسکر د ۳۰ میله سپکی او درندی وسلی او یو مقدار مهماتو سره مجاهدینو ته تسلیم شول.

بغلان :

دقوماندانانو شورانظامی دفتر دبغلان ولایت دجهادی منابعو په حواله رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دبغلان په لویه لاره دتره خیلو په ستراتیژیکه پوسته یو بریالی برید وکړ چی تر لږ مقاومت وروسته دغه پوسته فتحه شوی دری تنه عسکر وژل شوی اوڅو تنه هم په اسارت نیول شوی .

پدی عملیاتو کی مجاهدینو درژیم یو عراده ټانك سوځولی ۵ میله کلاشینکوفونه یو ګرینوف یو میل پی کا دوه راکټونه اویوه پایه مخابره یی ولجه نیولی .

کندهار:

په کویټه کی دمیډیا نمایندګی رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دکندهار په هوایی ډګر باندی دیوه راکټی برید په ترڅ کی دهوایی ډګر یوه ودانی داورلمبه کړی چی دری ساعته یی داورلمبی دوام درلود .

پدی برید کی درژیم دملیشه وو اوعسکرو یو شمیر افراد هم وژل شوی اورژیم ته درونډ مالی تاوان اوړیدلی .

دهمدی منبع دبل رپوټ له مخی مجاهدینو دکندهار ولایت دډند ولسوالی پرپوستو ددرنو وسلو څخه په استفادی برید وکړ چی په نتیجه کی درژیم یو صاحب منصب او ۱۶ تنه ملیشه له منځه وړی ، یوه عراده پوځی لاری یی داورلمبه کړی اوددښمن ځینی کلك سنګرونه یی ویجاړ کړی .

یادونه :

دیو لړ تخنیکي مشکلاتو له امله مو ونشواي کولاي دجهاد هنداري اونیزي دغه ګڼه دمعمول مطابق دچهارشنبي په ورځ چاپ او توزیع کړو ، هیله مند یو ګران لوستونکي ددي ځنډ له امله زموږ معذرت ومني .

اداره

اسرائیلی حکومت له سخت کړکیچ سره مخامخ دی

بی ، بی ، سی :

دبی ، بی ، سی راډیودخبرله مخی ویل شوی دی چی په اسرائیلو کی دچپ طرف ددوو ګوندونو دشامیر دحکومت سره خپل مخالفت څرګند کړی دی او ویلی دی چی موږ به په منځنی ختیځ کی دسولی دراوستلو دغه کوښښونه چی فلسطینانو ته دی دازادی حق ورکړی شی له ناکامی سره مخامخ کړو دتهیا ګوند مشر ویلی دی چی دی به ډیر زر له حکومت څخه استعفی ورکړی اوپری به نږدی چی په منځنی ختیځ کی دسولی کوښښونه پرمختګ وکړی دیوه بل ګوند مشر هم ویلی دی چی له حکومت سره به خپله همکاری ډیره زر پریږدی ددغو دواړو ګوندونو له بیلیدو څخه وروسته به دشامیر حکومت له لویو ستونزو سره مخامخ شی اودغه کار به خامخا دانتخاباتو دکولو لپاره لارهواره کړی او کیدای شی چی په منځنی ختیځ کی دسولی دراوستو اوسنی کوښښونه هم له ناکامی سره مخامخ کړی .

دعراق ولس دی دصدام حکومت نسکور کړی

واشنګتن ، رویتراژانس :

دامریکا جمهور رئیس جارج بش دخلیج دخونړی جګړی دکلیزی په مناسبت په یوه پیغام کی ویلی دی ترڅو چی دعراق ولس دصدام حکومت نسکور نکړی امریکا به دعراق پرضد هر ډول اقتصادی اوسیاسی بندیزونو ته ادامه ورکړی .

جارج بش وویل دصدام حکومت نسکورول دعراق دولس کار دی اوامریکا به دعراق له نوی حکومت سره هر ډول مرستی ته حاضره وی.

دامریکا جمهور رئیس زیاته کړه چی دصدام عراق اوس ډیر کمزوری دی اوپه سیمه او نړی کی یوازی پاتی دی ځکه هغه اوس په سیمه کی خپل دیکتاتوری سیاست نشی پلی کولای .

بش وویل چی دی به تر هغه وخته دعراق پرضد خپل فشار جاری وساتی ترڅو چی دصدام حسین حکومت لری شوی نه وی .

بش اخطار ورکړی چی که صدام حسین دملګرو ملتو دسازمان پریکړی عملی نکړی امریکا به دهغه په ضد دپوځی قوت له استعمال څخه هم ډډه ونکړی .

ده همدارنګه وویل چی امریکا به دعراق پرخلاف خپل اقتصادی ، سیاسی اواخلاقی فشار ته ادامه ورکوی اوترهغی چی دصدام حکومت پرعراق حاکم وی ، دامریکا او عراق تر منځ داړیکو دښه والی څه امید نشته .

په روسیه کی لوږه قحطی اوقیمتی

مسکو ، فرانس پرس آژانس :

دروسی فدراسیون په جمهوریت کی دبی ساری لوږی قحطی ، او قیمتی له امله حکومت دبیلابیلو سیای ډلو او ولسی خلکو دسخت انتقاد او ګوتی نیونی سره مخامخ دی .

اودروسیی دپارلمان ویندوی یو ځل بیا دیلتسین له حکومت څخه داستعفی غوښتنه کړی .

بل لوری ته یلتسین دګرانی او عمومی حالاتو دکنترول لپاره ددی جمهوریت بیلابیلو سیمو ته په یوه اورده سفر لاس پوری کړی چی په همدی لړ کی یی دسینټ پیټر زبورګ په ښار کی دولسی خلکو یوی غونډی ته وینا کړی اودنرخونو دلوړوالی سخته غندنه یی کړی .

رپوټ وایی چی کله یلتسین پیټرزبورګ ته ورسید نو ددی ښار په زرګونو دټیکسی دریوانو په یوه احتجاجی مظاهره لاس پوری کړ ، او ویل یی چی دحکومت له خوا دټیکسی په کرایو کی دلس چنده اضافی له امله دنوی کاروبار له سقوط سره مخامخ دی .

رپوټ زیاتوی دروسیی جمهوریت په بیلابیلو ښارونو کی دخوراکی موادو او همدارنګه نورځنی ژوند ضرورت وړ نورو اجناسو نرخونو تر لس برابره هم زیات اوچت شوی ، او په اکثرلویو ښارونو کی دوکانونه تش پراته دی ، او ولسی خلك دخوړلو څښلو ضروری اشیا هم نشی ترلاسه کولای .

په نیول شوی کشمیر کی باید دانسانی حقوقو دپایمال کیدو تحقیقات وشی

نوی دیلی :

هند ته راغلی دبریتانیی دبهرنیو چارو وزیر ویلی دی چی هندی حکمرانان دی په نیول شوی کشمیر کی دانسانی حقوقو دپایمال کیدو دتورونو تحقیقات وکړی اوداخبره دی په ډاګه کړی چی په دغه سیمه کی میشته هندی پوځیان دقانون په چوکات کی دننه کار کوی .

دبی ، بی ، سی راډیو دخبرله مخی دګلس هرد دهند د جمهور رئیس وینکت رامن او دداخله وزیر ایس پی چوان سره هم دخپل ملاقات په دوران کی دکشمیر په اوسنی وضعه تشویش ښکاره کړ خو بلی خواته هندی واکمنانو دبریتانیی دخارجه چارو دوزیر ددغو غوښتنو په مقابل کی هیڅ کوم عکس العمل نه دی ښودلی .

دکابل رژیم اسیران خوشي شول د(۱۷۰۰) تنو په شاوخوا کي

ازاد خوست ، ددلوي لومړي نیټه :

دجهاد هنداري استول شوي خبریال په خوست کي دالحاج مولانا جلال الدین حقاني دجبهاتو له قوماندانی نه خبر راکوي چي دخوست دفتحي په جریان کي دکابل دمزدور ژیم دقواوو څخه نیول شوي د ۱۷۰۰ تنو په شاوخوا کي نظامي اسیران چي عسکر ، ټیټ رتبه صاحب منصبان دګلم جم او محلي ملیشه سربازان پکي شامل دي پرون د۳ شنبي په ورځ ددلوي په لومړي نیټه خوشي کړاي شول .

زمونږ خبریال همدارنګه زیاتوي دغه اسیران چي لس میاشتي مخکي دالحاج حقاني دجبهاتو دمجاهدینو له خوا په اسارت نیول شوي وو دمجاهدینو لدي عفوي او مهرباني او همدارنګه دقید په موده کي دمجاهدینو له خوا دهغوي سره دانساني او اسلامي قوانینو له مخي چارچلند څخه ډیر خوشحاله ښکاریدل .

خبریال زیاتوي درژیم دقواوو دغه جنګي قیدیان دیوي غونډي په ترڅ کي چي په همدي مناسبت جوړه شوي وه دګڼ شمیر ژورنالستانو په موجودیت کي خوشي کړاي شول .

دمجاهدینو له لوري درژیم داسیرانو دخوشي کیدو مفصل جریان او راپور تاژ اودامکان په صورت کي داسیرانو نومونه او شهرت به دجهاد هنداري په راتلونکي ګڼه کي انشاالله درنو لوستونکو ته وړاندي کړو .

دظاهرشاه مجسمي ته اور ورته شو

د دلوی دمیاشتي په لومړي نیټه دجهادي تنظیمونو دمحصلینو زده کوونکو او استادانو له خوا جوړه شوي مظاهره کي په سلګونو تنو ګډون کړي و دمظاهري ګډون کوونکو چي دافغانستان دپخواني پاچاظاهرشاه پر ضد یي شعارونه ورکول، اوڅه بیرغونه او شعارونه یي په لاسونو کي نیولي وو، دپیښور دتاون په منطقه کي دیوه لنډي مظاهري وروسته دسپین جومات په سیمه کي یوه غونډه جوړه کړه دغه غونډه دغرمي نه مخکي په ۱۱ بجو دقرانکریم په تلاوت سره پیل شوه دتلاوت نه وروسته دجهاد پوهنتون یو استاد خبري وکړي اودخپلي وینا په یوه برخه کي یي وویل : دانقلابونو اساسي قوت محصلین او زده کوونکي وي او موږ دخداي (ج) په فضل ددوي پوره پانګه لرو او موږ خپل ځوان نسل داسلام په لار کي قرباني ته تیار کړیدي.

همداراز دمحصلینو په نمایندګي یو تن محصل دخپلو خبرو په ترڅ کي وویل : اوس چي دکابل حکومت وروستي سلګي دي استعماري قوتونه غواړي بیا دظاهرشاه تر سیوري لاندي خپل مزدوران پر موږ حاکم کړي خودافغانستان مجاهد ملت دظاهرشاه محاکمه کول غواړي.

دمظاهري په پاي کي په پښتو ، دري اردو، انګریزي اوعربي ژبو یو پریکړه لیك ولوستل شوچي څو مادي یي په لاندي ډول دي.

ظاهرشاه یوه کشیفه څیره او ددین او وطن پلورونکي داسلامي مقدساتو توهینونکي شخص دي ، زموږ مجاهد ملت به داسي بي ننګه شخصیتونه دیوي لحظي لپاره هم ونه مني .

ائتلافي حکومت زموږ پر هیواد دروس او امریکا دتوافق وسیله ده ددغه ډول نظام به دنجیب دحکومت په سرنوشت اخته او جهاد به ورسره ادامه لري .

دخپل اسلامي جهاد په اړوند دپاکستان دحکومت او خلکو نه دمنني او تقدیر په څنګ کښي غوښتنه کوو چي دمجاهدینوملاتړ پري نږدي جهادي ګټو باندي نورو ګټو ته ترجیح ورنه کړي اوخپل دانصاري توب لقب وساتي .

دغه مظاهره دورځي په ۱۲ بجو دظاهرشاه دمجسمي په سوځولو او شعارور ورکولو سره پاي ته ورسیده .

دهیت تحریر تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوسټ بکس (۱۰۳۳)
یونیورسټي ټاون پیښور
ټیلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضیا «ذهین بابري»